# د پروفېسر داور خان داؤد ژوند او ادبي کردار

**Life & Literary Role of Prof. Dawar Khan Dawood**

شهاب عزيز ارمان*

**Abstract:**

Prof. Dawar Khan Daud (1940-2018) was a reputed and admitted Pashto literary figure. Although he remained Professor of English yet he contributed a lot to Pashto literature. He is regarded an authority of Pashto folklore studies. He worked as a researcher and critic in Pashto and was accepted and admired as an international scholar. Besides that his poetry and translations from Pashto to Urdu and English and from English and Urdu to Pashto are worth praising. In short there are so many aspects of his literary work. In this research paper a brief summary of his life, works, and Pashto literary in addition to his role as a poet, critic, researcher, translator and educationest is described and narrated. Hope this will provide some fresh insight and new data to the readers which will be very much valuable in understanding his role as a literary figure.

**Key words**: Dawar Khan Dawood, Pashto, Literature, Poetry.

شلمه صدۍ پښتو ادب کښې په ځنې حوالو ځانګړې حېثيت لري. د دې د شروع نه لږ اګاهو يعنې د نولسمې صدۍ په وروستو لسيزو کښې د جديد ادب او نوو اصنافو آهنګونه محسوسېدۀ خو دا صدۍ په دې حواله پښتو ادب کښې د نېک مرغۍ علامت شو. هم دې صدۍ کښې يو خوا که نړېوال ادب سره اړيکه لرونکي اصناف پښتو ادب ته راننوتل نو بل خوا د دغه معاصر ادب او جديدو اصنافو د رواج په خاطر خصوصي ليکوال د بنياد ګرو او معمارانو په حېث هم الله تعالیٰ په پښتو ادب پېرزو کړۀ. دغه م معمارانو پښتو ادب نړېوال ادب سره اوږه په اوږه د ودرؤلو او سيالؤلو په لړ کښې ګټه ورې هڅې وکړې. د دغه خصوصي وګړيو فهرست اوږد دی خو دا خبره په ډاډه زړۀ کووم چې د دغه معمارانو په نزدې پس رؤ خلقو کښې يوه اهمه منلې او پېژندلې نامه د اروانښاد پروفېسر داؤر خان داؤد هم ده.

د داؤر خان داؤد صاحب لنډه پېژندګلي د همېش خليل له قلمه څۀ په دې ډول ده:

"داؤر خان داؤد د کال ۱۹٤۰ ء د فرورۍ په شپاړلسمه ورځ د عبدالصمد خان کره د پېښور په ارباب لنډۍ نومې کلي کښې پېدا شوی دی. په خپل کلي د ابتدائي تعليم نه پس ئې په کال ۱۹۵۷ء کښې د ګورنمنټ هائي سکول نمبر ۳ پېښور ښار نه د مېټرک او بيا ګورنمنټ کالج پېښور نه د اېف ای امتحان کښې د کاميابۍ نه پس د پېښور پوهنتون نه د ابي ای، اېم ای

---

* Lecturer, Department of Pashto, Govt degree college tangi, Charsada

پښتو، ایم ای اردو او ایم ای انګرېزۍ سندونه هم تر لاسه کړۀ. ۱۹۶۹ء کښې ئې د تعلیم په محکمه کښې د خپل ملازمت ابتداء وکړه. مختلفو کالجونو کښې د انګرېزي ادبیاتو د لکچرار، اسسټنټ پروفېسر او اېسوسي اېټ پروفېسر په حېثیت د خپلو سرکاري فرائضو سر ته د رسؤلو نه پس په کال ۲۰۰۰ء کښې په پنشن لاړو. د تعلیم محکمې نه علاوه (پاک جرمن بېسک اېجوکېشن پراجېکټ او پښتو ټرانسلېشن پراجېکټ) کښې ئې هم د پښتو سبجکټ اسپېشلسټ او ريسرچ افسر په عهده کار کړی دی"(1).

1. پښتو ټپه: وړومبی چاپ ۱۹۷۹ء. دا یو رېکارډ دی چې دا کتاب تر اوسه پورې ۱۵ ځله چاپ شوی دی او دا سلسله لادوامداره ده.
2. رحمان بابا ژوند تعلیمات او شاعري، ۱۹۸۳ء
3. پښتو ادب کښې متل ۱۹۹۰ء.
4. د پرائمري استاذانو رهنما : دې کتاب کښې د زده کړې او ښودنې طریقه کار، رسم الخط او املاء په حواله بحث شوی دی. د چاپ کال ئې ۱۹۸۹ء دی.
5. حمزه شینواری ایک مطالعه (اردو) تحقیق، ۱۹۹۶ء
6. پس له څاڅکو لاله زار، شعري مجموعه یونس خلیل، (ترتیب او تدوین: پروفېسر داؤر خان داؤد او پروفېسر ډاکټر ایم اقبال نسیم خټک).
7. پښتو فولکلور کښې اړ، ۱۹۹۷ء
8. محمد (ص) عظیم الشان دی. (نعتیه مجموعه) ۲۰۰۲ء
9. د محمد (ص) رسول الله ځهره ده. (نعتیه مجموعه) ۲۰۰۳ء
10. څېړنه او کره کتنه ( د تحقیقي او تنقیدي مقالو مجموعه) ۲۰۰۳ء.
11. English translation of selected Pashto riddles ترجمه ۲۰۰۶ء.
12. ارباب هدایت الله شخصیت او فکر و فن (سوانح عمري) ۲۰۱۰ء
13. د پښتو محاورو او امروزو لُغت "سېلاب" (وړومبی جلد ۲۰۱۱ء).
14. د حمزه بابا د کابل سفر نامه، ۱۹۹۸ء (تالیف،مقدمه او فرهنګ)، داؤر خان داؤد.
15. د ارباب محمد سردار خان د فن او فن پارو یوه مطالعه ۲۰۱۲ء (دا هم سوانح عمري ده).
16. ارباب هدایت الله شخصیت او فکر و فن ۲۰۱۲ء (د ترمیم او اضافو سره )
17. A Pushto primer for the foreigners
18. خوشحال او فولکلور
19. رنگ ہائی پشتو ادب (مجموعہ اردو مضامین) ۲۰۱۵ء
20. د پښتو ادب په پراختیا کښې د فارسۍ کردار (اکتوبر 2017)

21. د خوشحال د فکر تنستې (درې طویلې تحقیقي مقالې)، جون ۲۰۱۸ء، (دا کتاب د داؤر خان صاحب د مرګ نه لږې ورځې پس چاپ شوی دی)"(2)

"دې نه علاوه وخت په وخت د موصوف تحقیقي او تنقیدي مقالې د درځنونو په شمېره په پښتو ، اردو او انګرېزۍ ژبو کښې په مختلفو رسالو او تحقیقي کتابونو کښې چاپ شوې دي. د وطن دننه د ټولو صوبو مختلفو ښارونو کښې ئې د پښتو ادب په اړه مختلفو سیمینارونو کښې مقالې اورؤلي دي او ادبي سفرونه ئې کړي دي".(3)

"په تخلیقي ادب کښې شاعري، مضمون، تکل، خاکه اونعت ګوئي د هغوي ځانګړنه ده. زیاتره رجحان ئې د مقصدیت په لور دی. د موصوف یو خصوصیت ترجمه نګاري هم ده. مختلفو ادبونو نه پښتو ادب ته ترجمې خو ډېرې شوې دي خو دا رجحان لاډېر کم دی چې د پښتو لیکوال دې خپله ژبه نورو ژبو ته وژباړي. له دې رویه اروانباد داورخان داؤد یو اهم نوم دی چې د پښتو چوڼ شوي نظمونه او افسانې ئې انګرېزۍ ته وخت په وخت ژباړلې دي. د مزاحمتي ادب نمائنده مضمونونه او افسانې انګرېزۍ ته ژباړل ئې د خصوصي ستائنې وړ کاوش دی".(4)

د خپلو ادبي خدماتو په اعتراف کښې هغوي ته ځنې اېوارډونه او اعزازات هم ورکړی شوي دي چې تفصیل ئې څۀ په دې ډول دی:

- "صدارتي اېوارډ برائی حُسن کارکردګي (۲۰۰۴ء)
- سیرت اېوارډ (په نعتیه مجموعه)، مذهبي امور، اسلام آباد، ۱۴۲۴هـ
- کالیز صدارتي اېوارډ د اکادمي ادبیات پاکستان اسلام آباد په تصنیف: "رحمان بابا ژوند، تعلیمات او شاعري".
- اباسین آرټس کونسل پېښور اېوارډ
- اېوارډ خوېشکي ادبي ټولنه مردان
- اېوارډ د صوابۍ ادبي ټولنه
- ګولډ مېډل ،اباسین آرټس کونسل
- چاچا کریم بخش اېوارډ سوات په "پښتو فولکلور کښې اړ"
- چاچا کریم بخش اېوارډ سوات په "څېړنه او کره کتنه"
- اېوارډ، دیر ادبي ټولنه تېمرګره
- اېوارډ، مجلس فکر وعمل مردان
- اېوارډ ، سلطان محمود ادبي جرګه – بډه بېره ، پېښور
- پاکستان رائټرز ګلډ اېوارډ په تصنیف" د محمد رسول الله څهره ده"

- د پاکستان رائټرز ګلډ اېوارډ په تحقيقي لغت: "سېلاب"
- د پاکستان رائټرز ګلډ عمومي اېوارډ"(5)
- "هغه محکمې چې چرته مصنف د پنشني کېدو نه مخکښې (ډيپوټېشن) يا وروستو (کنټرېکټ) کار کړی دی:

❖ پرائمري ټېکسټ بُک پښتو ټرانسلېشن پېښور ( ريسرچ آفيسر)
❖ پاک جرمن بېسک اېجوکېشن پراجېکټ پېښور (سبجکټ سپېشلسټ)
❖ ټېکسټ بک بورډ پېښور- رائټر
❖ ثانوي او اعلیٰ ثانوي تعليمي بورډ پېښور (ډسپېچ آفيسر)، ممبر ډسپلنري کمېټي، اېګزامينر( مېټرک، اېف-اې، بي-اې، اېم اې) انسپکټر (امتحانات) پېپر سېټر.

1. پروفېسر صاحب د پښتو ادب او تعليم په حواله په کال ۲۰۰٤ء کښې چين ته او په کال ۲۰۱٤ء کښې افغانستان ته سرکاري سفرونه هم کړي دي".(6)
2. "دې سره سره د يوې اوږدې مودې راسې د الېکټرانک مېډيا سره وابسته دی. وخت په وخت ئې د رېډيو پاکستان پېښور نه په کتابونو تبصرې او تجزيې کړې دي. د PTV پېښور مرکز او پرائيوېټ ټي وي چېنلز نه ئې په يو شمېر پروګرامونو کښې د کلاسيکي او جديد ادب په اړه علمي او معلوماتي پروګرامونو کښې د تجزيه کار او تبصره نګار په حېث کار کړی دی.
3. خپل ادبي سفر کښې ئې د پښتو ادبي ټولنو او جرګو سره هم تړون ساتلی دی. د نوو ليکوالو رهنمائي او لارښودنې سره سره د دغه ادبي جرګو په ادبي خدماتو کښې ئې هم ونډه درلودلې ده. د کال ۲۰۱۴ء نه وفات پورې د رحمان ادبي جرګې پېښور صدر هم وو.
4. د موصوف بالواسطه استاذان په شاعرۍ کښې حمزه شينواري، تنقيد کښې قلندر مومند او تحقيق کښې اروابښاد دوست محمد خان کامل دي. ښاغلي د دې لويو ادبي اتلانو د کتابونو غرقه لوسته کړې وه او هم د دغه لوستې په بنسټ دوي خپل استاذان او لارښود ګڼي.(7)"
5. "د داؤر خان داؤد په اعزاز او د هغوي د ادبي خدماتو په اعتراف کښې تر اوسه د اکېډيمي ادبيات پاکستان او پاکستان ټيلي وژن له خوا خصوصي پروګرامونه ترتيب وار په کال ۲۰۰٤ء او کال ۲۰۱۳ءکښې نمانځلی شوي دي".(8)

"ريسرچ لا ئبرېري پېښور د داؤر خان صاحب په اعزاز کښې پروګرام په ١٦م نومبر ۲۰۱٤ء د اتوار په ورځ کړی وو د محترم سليم راز صاحب په صدارت کښې کړی وو. مشر مېلمه ئې عبدالسبحان خان وو. دې پروګرام کښې ډاکټر فصيح الدين اشرف هرکلی وئيلی وو. راقم الحروف د داؤر خان صاحب په ژوند او ادبي کار و زيار مقاله وړاندې کړې وه. پروفېسر ډاکټر يار محمد مغموم صاحب پکښې د موصوف په اړه تاثرات وئيلي وو."(9)

6. د پروفېسر صېب ناچاپ آثار چې د چاپ امکان لري دا دي:
7. څېړنه او کره کتنه (تحقیقي او تنقیدي مقالې) دوېمه برخه
8. څېړنه او کره کتنه (تحقیقي او تنقیدي مقالې) درېمه برخه
9. زما کلام (شاعري)
10. په رحمان بابا شپاړس مقالې د کتاب په شکل کښې(10)

د داؤر خان داؤد په شاعرۍ د تبصرې نه اګاهو غواړم چې د هغوي د نظم يوه خونده وره نمونه وړاندې کړم د دې نظم عنوان دی: "د ګل په شانې"

نزاکت لري د خيال د ګل په شانې
د پښتو په مخ دی خال د ګل په شانې

هم ئې رنګ واړو رنګونو کښې ځلند دی
ده خوشبوئې د جمال د ګل په شانې

د پښتو ژبې بېدل هم موشګاف دی
نشته بل څوک د دۀ سيال د ګل په شانې

خوش بختي ده د مومندو چې خدائی ورکړو
يو بې مثله بې مثاله د ګل په شانې

چې غزل ئې د پښتو ښکلی سنګار کړو
زړۀ کښې ځائی ئې وه غزال د ګل په شانې

د خوشحال رحمٰن نه پس ته درېم استاذ دی
د پښتو ادب جمال د ګل په شانې

د ښکلا ئې کوي هر څوک صفتونه
د پښتو په سر دی شال د ګل په شانې

په هر رنګ کښې ئې رنګونه په رنګ رنګ دي
دی په شان د بوډۍ تالد ګل په شانې

هر یو لفظ ئې لکه ګل د غزل رنګ کړو
د مضمون ئې دی جلال د ګل په شانې

د ځانګړي ادبي مکتب خاوند دی
خدائی ورکړی دی کمال د ګل په شانې

چې خدائی ورکړي "دُر مرجان" چاته داؤده!
وي همېش به لاژوال د ګل په شانې

یقیناً چې د ښاغلي شاعرانه ګرفت د فکر او فن په لحاظ ډېر قوي دی. د هغوي د شاعرۍ موضوعیت، موزونیت، رواني، سلاست او شګفتګي په هر لحاظ د ستائیلو وړ دي. شاعرۍ کښې ئې د علِم بیان آثار ډېر په ځائی او مترنم انداز کښې محسوسېدی شي. محترم ادیب همېش خلیل د هغوي د شاعرۍ په اړه لیکي:

"د داؤر خان داؤد شاعري د جدید او قدیم رنګ یو سپېڅلی امتزاج دی چې د قدامت او روایت سره سره د جدت آئینه داره ده.

"هم دغه وجه ده چې دوي د خپلې شاعرۍ داخلي او خارجي پېکر یعنې مضمون او اسلوب دواړو ته یو شان توجه ورکړې ده ځکه ئې شعر کښې مقصدیت هم شته. رنګیني هم او سادګي هم"(11)

"دلته باید یوه خبره ضروري وکړم او هغه دا چې د پروفېسر داؤر خان داؤد د وېنا مطابق هغوي خپله د نعت او معرفت نه سېوا چې څومره شاعري هم وه، د حج کؤلو نه پس سوزؤلې ده".(12)

دا یو افسوسناک امر دی چې واقع شوی دی. د هغوي نعتیه شاعري اسانه او روانه ده. روایتي او اولسي رنګ پرې غالب دی. موسیقیت او ترنم پکښې په فطري توګه محسوسېږي. د نظم په مختلفو هېئتونو ئې نعت لیکلی دی.

د شاعرۍ نه سېوا د داؤر خان داؤد خصوصي د پاملرنې مېدانونه چې دوي پکښې زیار ګاللی دی؛ فولکلور، تحقیق، تنقید او ترجمه نکاري جوړېږي.

فولکلور چې د یو قام د مزاج، تهذیب کلتور، خویونو او خصلتونو، توهماتو او رجحاناتو، قابلیت او نفسیاتو، روماني او روحاني احساساتو، اقدارو او روایاتو، سماجي غورزو پُرزو او تاریخ هنداره وي. یو نسل ئې سینه په سینه بل نسل ته سپاري او دغه شان دوام مومي. د فولکلور په لړ کښې د ښاغلي داؤر خان داؤد صاحب کار غېر معمولي دی. دا د هغوي د خوښې مېدان دی. د هغوي د دې رجحان نمائنده آثار پښتو ټپه، پښتو فولکلور کښې اړ، پښتو ادب کښې متل، خوشحال او

فولکلور او لُغت "سېلاب" دي. پښتو فولکلور کښې د هغوي چاپ کار ته د ارزښت او اهمیت له رویه د حوالې د کتابونو درجه تر لاسه ده ځکه چې هغوي د "قم باذن الله" په مصداق پښتو فولکلور کښې یو نوی روح پوکلی دی. د هغوي د کتاب "پښتو ټپه" د اهمیت او افادیت په حواله حمزه شنواري داسې خیال لرلو:

"په ټپه، لوبه، نیمکۍ او نورو باندې وخت په وخت ځینې لیکوالو مقالې لیکلې دي خو داسې کتاب چې د دې ټولو حامل وي، زما له نظره نۀ دی تېر شوی".(13)

موصوف په بنیادي توګه یو څېړنکار دی. د هغۀ د سترګور نظر او ژوَر فکرۍ اندازه د دې اقدام نه په آسانه لګي چې هغه د خپلو نژدې پېش رو او د خپل دور د قلم رو په شان چې هغه وګړې د ګوتو د شمېر څو وګړي کېدی شي، د وخت د ادراک او حالاتو د غوښتنې نه خبردار وو ځکه نو په شعوري توګه ئې ځان او خپل صلاحیتونه څېړنې اوکره کتنې ته وسپارل. په دې مېدان کښې ئې هم زړۀ پورې کار کړی دی. د کلاسیکي ادب نه راواخله تر جدید ادبه یو شمېر مقالې او کتابونه هغوي په پښتو ادب پېرزو کړي دي. رحمٰن بابا ژوند، تعلیمات او شاعري، پښتو فولکلور کښې اړ، خوشحال او فولکلور ,حمزه شینواری ایک مطالعه اور نگہائی پشتو ادب ئې د دې رجحان نمائنده آثار دي. د پښتو د کلاسیکي شاعرانو په کلامونو کښې د فولکلوري آثارو لټون د هغوي ځانګړنه ده. د هغوي د مقاله نګارۍ او تحقیقي رجحان په بابله ایوب صابر لیکلي دي چې:

"داور خان داؤد ایک شاعر کی حیثیت سے پشتو ادب میں داخل ہوئے مگر شہرت انہوں نے مقالے لکھ کر حاصل کی اور آج کل وہ ایک مقالہ نگار کی حیثیت سے پہچانا جاتا ہے".(14)

**ژباړه**: داور خان داؤد د یو شاعر په حېثیت پښتو ادب ته را داخل شو خو ولې هغوي شهرت د مقالو لیکلو له کبله ومونده او نن سبا هغه د یو مقاله نګار په توګه پېژندلی شي.

د هغوي کره کتنه زیاتره تشریحي ده. د اُردو او انګرېزي ادب لوستې د هغوي کره کتنې ته سنجیدګي، مقصدیت او اهمیت بخښلی دی ولې چې د تقابلي تنقید د پاره خصوصاً چې هغه بین اللساني وي، د متعلقه ژبو زده کړه ضروري ده او موصوف په دې اړه بریالی دی. د ښاغلي څېړنه او کره کتنه زیاتره قدم په قدم روان وي ولې چې د یو څېړنکار د پاره د څېړنې د اصولو او شعور او ادراک سره سره د یو تنقیدي ذهن درلودل هم ضروري دي او د نېک مرغۍ خبره وه چې د داور خان داؤد لاس په دې دواړو څانګو بر وو. "د خوشحال د فکر تنستې" په مقدمه کښې د داؤر خان صاحب د خوشحال شناسۍ او تحقیقي کاوش په حواله د راقم الحروف نظر څۀ داسې وو چې:

"پروفېسر داور خان داؤد د پښتو ادب په هغه لیکونکیو کښې راځي چا چې د ادب په مختلفو اړخونو د لیکلو کامیابې هڅې او هاندې کړې دي. که موصوف هر څو د اولسي ادب د څېړنې په حواله یو انفرادي مقام او د رحمان بابا د تعلیماتو د تشریح اوترویج په

اساس د رحمان شناسۍ سند لري خو د خوشحال بابا د فکروفن په ترويج او انکشاف کښې هم خپله ونډه لري".(15)

دلته باید دا تذکره هم وکړم چې داؤر خان صاحب په درځنونو کتابونو باندې خوندورې علمي او تنقيدي مقدمې ليکلي دي. د یو شمېر کتابونو Book review ئې هم کړې ده او د تر يوې مودې پورې د ادبي رسالې "تاترې" ذمه واري هم ور په غاړه وه.

د موصوف د څېړنې او کره کتنې انداز د دور د ادبي تقاضو سره برابر دی. هغوي د بې ځايه طوالت نه ځان ژغورلی او غېر ضروري لفاظۍ نه ئې ډډه کړې ده. هم دا وجه ده چې د هغوي د ليک انداز روان، آسان، د محاورې او امروزې سره سم، ادبي او زړۀ راښکونکی دی خو د آسانتيا باوجود ئې د ليک مدلل انداز او علميت د ستائيلو وړ دی. بې ځايه به نۀ وي که د هغوي د تنقيد او تحقيق په اړه د ډاکټر فضل دين خيالات وړاندې کړی شي. موصوف ليکي:

"داور خان داؤد استادِ فن ہیں. وہ ایک ماہر نقاد، ایک پُر مغز محقق اور ایک خوبصورت شاعر ہے. تحقیق او تنقید کی خوبصورت کتابیں لکھی ہیں".(16)

د يو مترجم په حېث هم د داؤر خان صاحب کردار اهم دی ولې چې د ژباړې په وجه د يو قام د مزاج، نفسياتو، ادبي رجحاناتو، کلتور، تهذيب سماج، رواياتو او مذهبي اعتقاداتو ادراک او اندازه کېدلی شي. نن د نړۍ د بيلا بيلو ژبو ليکوال او د هغوي خيالات او تصورات مونږ هم د ترجمې په اساس پېژنو او استفاده ترې کوو. داؤر خان داؤد هم پښتو نظم او نثر اُردو او انګرېزۍ ته د ژباړلو کاميابې هڅې کړې دي. دا په مختلفو ژبو د هغوي د دسترس يو جوت ثبوت دی. زۀ په ذاتي توګه د هغوي دا اقدام يو نېک فال ګڼم ولې چې دا د دې دور يوه اهمه تقاضه ده.

دې سره سره داؤر خان داؤد د يو ماهرِ تعليم په حېث هم خپلې ذمه وارۍ په بشپړه توګه تر سره کړې دي . د يو قابل استاذ او د ماشومانو د نفسياتو نه د اګاهۍ په بنياد ئې يو شمېر خواږۀ نظمونه ليکلي دي چې وخت په وخت د پښتو په نصابي کتابونو کښې چاپ شوي دي.

خبرې نورې هم کېدی شي خو هم په پورته وېنا اکتفا کووم او په ډاډه زړۀ دا وايم چې داؤدر خان داؤد د خپل ګاللي ادبي کار، زيار او کردار په حواله پښتو ادب کښې يو داسې نوم دی چې د ورکېدو او هېرېدو خطره ئې ورکه شوې ده.

پروفېسر داؤر خان داؤد د جون د مياشتې په ۳ مه نېټه کال ۲۰۱۸ء د اتوار په ورځ چې دا د روژې زبرګه مياشت او ۱۹مه ورځ وه وفات شو او په خپل کلي ارباب لنډۍ کښې خاورو ته وسپارلی شو. (په ګور ئې نور شه). آمين.

## حوالې


1. همېش خليل، پښتانۀ ليکوال، يونيورسټي پبلشرز پېښور، دوېم چاپ ۲۰۱۱ء، مخ ۱۵۷

2. داؤد، داؤر خان، پروفېسر: د پښتو ادب په پراختيا کښې د فارسۍ کردار، قلم پښتو ادبي جرګه مُلازئي پېښور، اکتوبر ۲۰۱۷ء، مخ 162-163

3. داؤر خان داؤد سره مرکه، ۱۱ نومبر ۲۰۱٤ء

4. دا آثار زما د نظره نۀ دي تېر شوي. نۀ راته هغه کتابونه او رسالې معلومې دي چې د موصوف ليکوال دا ژباړې په کښې چاپ دي. دا د هغوي خپله وېنا وه چې ما ته ئې کړې وه. داؤر خان داؤد سره مرکه، ۱۱ نومبر ۲۰۱٤ء

5. داؤد، داور خان، پروفېسر: د خوشحال د فکر تنستې، قلم پښتو ادبي جرګه مُلازمې پېښور، جون ۲۰۱۸ء، رمضان المبارک ۱٤۳۹ھ، مخ نمبر نۀ لري خو د کتاب په سر د مصنف پېژندګلو تر عنوان لاندې دا هر څۀ درج دي.

6. داؤر خان داؤد سره مرکه، ۱۱ نومبر ۲۰۱٤ء

7. داؤر خان داؤد سره مرکه، ۱۱ نومبر ۲۰۱٤ء

8. د پي ټي وي پروګرام "وړانګې" کوربه زۀ په خپله ووم. داؤر خان صاحب له د هغوي کلي ته سره د ټي وي د ملګرو تلې ووم او د ارباب هدايت الله په حجره او د پروفېسر صاحب په بېټهک کښې مې ترې رېکارډنګ کړې وو. کره ياد راته نۀ دي خو غالباً چې د اکتوبر مياشت وه او کال ۲۰۱۳ء وو. (شهاب عزيز ارمان)

9. ريسرچ لائبرېري په ورسک روډ، فاټا سېکرټرېټ ته مخامخ په کوڅه کښې ده چې ډاکټر فصيح الدين اشرف (آفيسر، پوليس ډيپارټمنټ) قائمه کړې ده. وخت په وخت دا کتابتون ادبي پروګرامونه

هم کوي. مذکوره پروګرام ئې په ۱٦م نومبر ۲۰۱٤ء کښې کړې وو چې راقم په کښې هم ګډون کړې وو او هم ئې د نظامت چارې تر سره کړې وې.

10. تاثرات، پروفېسر داؤر خان داؤد، ريسرچ لائبرېري پېښور کښې د هغوي په اعزاز کښې تقريب، ۱٦ نومبر ۲۰۱٤ء.

11. همېش خليل:پښتانۀ ليکوال : مخ ۱۵۹

12. داؤر خان داؤد سره مرکه، ۱۱ نومبر ۲۰۱٤ء

13. داؤد، داور خان: پښتو ټپه، (د حمزه شنواري مقدمه)، پښتو ادبي مرکز سرائی نورنګ بنو، دوېم اېډيشن جون ۱۹۸٤ء، مخ ۷.

14. ایوب صابر: جدید پښتو ادب، د امارات و ادبي ټولنه، متحده عرب امارات، بار سوم فروری ۲۰۱٦ء، ص ۲٤۵

15. داؤد، داور خان: د خوشحال د فکر تنستې (د شهاب عزيز ارمان د مقدمې نه اقتباس)، قلم پښتو ادبي جرګه مُلازئي پېښور، وړومبی چاپ جون 2018ء، رمضان المبارک ۱٤۳۹ھ، مخ 6.

16. داؤد، داور خان: حمزہ شنواری ایک مطالعہ، مقدمہ از: ڈاکٹر فضل دین خٹک، جدون پریس پشاور، 1996ء، ص 11